#کرونا_را_جدی_بگیریم
#کرونا_په_جدي_ګڼو
افغانستان ویروس کرونا را شکست میدهد!

## د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو!**

کرونا ناروغي جدي وګڼئ، د روغتیایي مرکزونو په لاربښوونو عمل او د افغاني سرې میاشتې ټولنې د رضاکارانو او ګرځنده روغتیایي ټیمونو سره، چې شپه او ورځ د هیواد په بیلابیلو سیمو کې د هیواد والو په خدمت کې دي، همکار پاته شئ؛ ترڅو د کرونا ناروغی له خپراوي څخه مخنیوی وشي.

شمیره:۱۰ | **خبر پاڼه** | د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر میاشت




د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښځپلیو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو، درنو حاجیانو او مماثلو همکارو ملي ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.

ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي.

په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنۍ تر ساتنې او روزنې لاندې لرې او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکارۍ او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

## پیښو ته دځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۰ کال د اکتوبر میاشتې برخمن شوي.

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرسته شوي توکي | مرستندویه بنسټونه |
|---|---|---|---|
| کابل | ۷۰۰۰ | خوراکي توکي | د ترکیې سره میاشت |
| لوګر | ۶۸۱ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت |
| غزنی | ۵۶۴۱ | خوراکي توکي | سره صلیب |
| تخار | ۲۲۶۸ | خوراکي توکي | سره میاشت او یونیسف |
| بدخشان | ۲۹۷۰۰ | خوراکي توکي | سره میاشت او د دولت پیښو اداره |
| فاریاب | ۸۱۹ | خوراکي توکي | سره میاشت |
| غور | ۲۰۳ | خوراکي توکي | سره صلیب |
| پکتیکا | ۲۳۰۶ | غیر خوراکي توکي | سره میاشت |
| **ټولټال برخمن شوي:** | | **۴۸۶۱۸ تنه** | |

### د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر میاشت کې په هیواد کې د بنکیلو اړخونو ۲۰۸ جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

### د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په اکتوبر میاشت کې د بندیانو او هغوی د کورنیو ترمنځ ۲ پیغامونه راټول شوي او ۳ پیغامونه ویشل شوي دي.

## مرستونونه

د افغاني سرې میاشتې ټولنه په پینځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولین (کونډې، یتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه یې رواني ناروغان دي.

## د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې میاشتې ټولنې روغتیایي خدمتونه ددې لپاره د اهمیت وړ دي چې په کلیو او بانډو کې د لیرې پرتو سیمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په لیرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حیاتي ارزښت لري

| روغتیایي مرکزونه | OPD روغتیایي خدمتونه | اسکرینتګ/چاپ | شکمن | روغتونونو ته لیرل شوي شکمن | روغتیایي زده کړې |
|---|---|---|---|---|---|
| بنسټیز کلینیکونه | ۷۶۶۶۵ | ۳۹۸۱ | ۲۰۲ | ۱۳۵ | ۵۸۵۰۷ |
| ګرځنده روغتیایي ټیمونه | ۳۴۰۲۳ | ۲۵۳۲ | ۱۲۸ | ۵۷ | ۱۹۸۱۷ |
| فرعي روغتیایي مرکزونه | ۳۲۱۲۸ | ۱۰۷۷ | ۱۸۶ | ۱۱۹ | ۱۱۶۹۸ |
| جامع روغتیایي کلینیک | ۱۵۸۳۵ | ۱۶۰۶ | ۶۲۷ | ۴۵ | ۴۳۰۴ |
| د کتلوي معافیت ګرځنده ټیمونه | ۲۸۴۵۸ | ۲۲۷۷۳ | ۴۰۰۷ | ۳۶۰ | ۱۱۱۰۲۴ |
| **ټولټال:** | **۱۸۷۱۰۹** | **۳۱۹۶۹** | **۵۱۵۰** | **۷۱۶** | **۲۰۵۳۵۰** |

| کووید ـ ۱۹ مرکزي روغتون | سکریننګ او OPD روغتیایي خدمتونه | د بستر ناروغانو شمیر | روغ شوي | شکمن | لیرل شوي شکمن | د مړو شویو کسانو شمیر |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ۱۰۳۱ | ۱۳ | ۹ | ۲۳ | ۱۳ | ۲ |

### د زړه سوري ځانګه CHD:

د اوکتوبر میاشتې په لړ کې ٦٩ د زړه په سوري اخته ناروغ ماشومان په هیواد د ننه ( ګلوبل، ملت او د فرانسویانو) روغتونونو ته د درملنې په موخه ور پیژندل شوي دي.

### د ځوانانو د روغتیا ځانګه Youth health:

- په اوکتوبر میاشت کې د ځوانانو د روغتیا څانګې له لوري په کابل، بلخ او ننګرهار ولایتونو کې 18000ML وینه را ټوله شوې ده.
- په هرات کې ۱۷۰ تنه رضاکاران له کوید ۱۹ تریننګ څخه برخمن شوي او ۲۲۱۰ کورنیو ته ۱۱۰۵۰ کلچې د لاس مینځلو صابونونه ویشل شوي دي.
- په بلخ ولایت کې ۱۷۰ تنه رضاکاران له کوید ۱۹ تریننګ څخه برخمن شوي او ۲۲۱۰ کورنیو ته ۱۱۰۵۰ کلچې د لاس مینځلو صابونونه ویشل شوي دي.






مسوول مدیر: محب الله شیرزی
د ډیزاین مدیر: سمسور فخری
د اړیکې شمیره: ۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷
وبسایت: www.redcrescent.af
ایمیل: dis@redcrescent.af
فیسبوک: Afghan Red Crescent Society
د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزی دفتر، افشار سیلو، پنځمه ناحیه، کابل - افغانستان